# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



جان لنون
ژباړه: فرهاد ویاړ

23.09.09

## د کارګرې طبقې اتل

له کومې شیبې چې نړۍ ته راځې تا اړ کوي چې ځان سپک وګڼې
د فکر کولو وخت تا ته نه درکوي
په وجود کې د درد دومره په سختۍ لمبه وهي چې نور یې احساسولی نشی

څه خوند لري د کارګرې طبقې اتل کیدل!

په کور کې دې ځوروي او په ښوونځي کې دې وهي
که هوښیار ووسئ، له تا نه کرکه کوي او که ناپوه ووسئ سپک دې شمیري
هومره اطاعت کوی چې لیونی کیږئ او پر قوانینو یې نه پوهیږئ

څه خوند لري د کارګرې طبقې اتل کیدل!

بیا، کله چې شل کاله یې شکنجه کړی او سرې سترګې یې درښکاره کړی
هومره ډارن کیږی چې نور ګواکی آن د خپلو لاسونو او پښو اختیار نلری

څه خوند لري د کارګرې طبقې اتل کیدل!

د مذهب او سکس او تلویزیون سره دې تخدیروي
ځان بی اندازه هوښیار او آزاد او له طبقاتي محدودیتونو څخه جلا ګڼی
خو زما له پامه له هماغه ځپل شوي رعیت پرته لا هیڅ شئ نه یی

څه خوند لري د کارګرې طبقې اتل کیدل!

درته وايي چې لا تا ته په هغه لوړو لوړو کې ځای شته
خو که غواړئ چې ته هم  د هغه آسمانڅک میشتو خلکو په شان ووسئ
شرط يې دا دی چې خندا پر شونډو، انسان ووژنی

څه خوند لري د کارگرې طبقې اتل کيدل!

که ته غواړئ اتل ووسئ، زما لاره غوره کړه
که ته غواړئ اتل ووسئ، یوازې باید زما لاره غوره کړی.